عنايت الله پويان

**يادونه**: دغه دوه پورتني شعرونه د خدای بښلي ډاکټر نجيب الله د شهادت د ورځې په مناسبت د عروضی نظم په قالب کې ما ليکلي دي کله چې د هغه ستر ګې له دغې کرغيړنې دنياګۍ څخه پټې شوې او اوبه له ورخه واوښتې خلک يې په ارمان کې شو خو دغه ارمان د افغانستان د سولې لپاره ګټه نه لری او ما د افغانستان د خلکو د ارمان په وړاندې د شهيد نجيب الله له خولې نه د ګيلې په توګه داسې ليکلي دي.

# د ګناه کفارې



جانانه زه د ښايست ګل وم
خو تا نه پيژاندم
نه دې سر تاج کړم د کاکل
نه دې د غاړې اميل
ته د کبرونو لور وې
مينه له تانه مروره لاړه
ګل دې له لاسه ولويد
او په ګناه واوښتې
ته د شهوت په زولنو کې شوې اسيره بندي
تا مينه ووژله
تا د آسمان غضب را وپاراوه
اوس به دا ستا د ګناهونو د کفارو بدل کې
دغه بې کوره وړې- تږې خلک
خپل ماشومان، د اور لمبو ته سپاري
اوس به دا ستا ، د ګناهونو ،
د عصيان په تښ کې
وچ لانده دواړه،
د تناره په يوه اور کې سوځي